(c) ketabton.com: The Digital Library



# تور زلفان کج

په سپين مخ دې ښکلي ګرځي توره زلفان کږې<br>
په نظر د عاشقانو دي ماران کږې

خپله ګل يې ګلستان ته څه حاجت دى<br>
ستا رخسار ته په تعظيم دي ټول ګلان کږې

کږ رقيب او کږ غماز شته په جهان کښې<br>
خدايه مه کړې عاشقانو ته ياران کږې

کړې وريځې کړې توري د ايران دي<br>
څکه اوښکې مې را دروي په ګريوان کږې

يو راتلک د عزرائيل زما په ځان شي<br>
چې راپورته کړي يو ځل دوه چشمان کږې

په صورت مې زلزله تبه پيدا شي<br>
ګرفتار مې شي زړګي په يو لړزان کږې

ويره مې مې په تن باندې پيدا شي<br>
لکه وي څوک لاهو شوى په طوفان کږې

په دقيق صورت اشعار ليکه سمسار ه،<br>
شته جهان کښې موږ شګفه شاعران کږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انتظار کې یاره ستا لکه د بنګو ړکې
شومه بزباد په حال خراب د شوګیرو نوسره
زلفان بې زېب که په سپین مخ د شوخ خالونو سره

ستا په دیدن به شم تازه دګل وهلو په شان
زړه تازه کېږي په دیدن د دیدنونو سره
زلفان دې زیب که په سپین مخ د شوخ خالونو سره

د کامه وال شیمار سلام ته یو ګل لاس پوره کړه
سودا مې نشته د جنت او د وږ خونو سره
زلفان دې زیب که په سپین مخ د شوخ خالونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه سپړ کړه حوادثو ته چې تېر شي
وخت روان نه ايساریږي تېر به شي

منکي په يو الله شه په خود ئ کې
جهان وار پرې خرخيږي تېر به شي

وخت تابع کړه دخپل ځان مذهب مشه
پس دهر شې سباکيږي تېر به شي

مشکلاتو ته صرف يو عزم پکار دی
هر مشکل دې اسانيږي تېر به شي

مد و جزر سدو رخ په لوی گرداب کې
ستم ګار بيا هم خوشاليږی تير به شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غونچه د ګلو

ځان یې جوړ کړې په آینې کښې په چکر راغله
غونچه د ګلو په نظر راغله

سترګې چې تورې په کجل که
رفتار د زړه کې په مزل که
عاشق سټي په تور اوربل که

د ښاپېرۍ په شکل تېزه په هنر راغله
غونچه د ګلو په نظر راغله

تا ته دا الوزي بیان
هر لورته ولاړیم په انتظار.
په کوم طرف لرې اختیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اُمِیدّوَنهٔ

څه چې اشنا وايي ټول ګاو سنه شي
بېرته اُمید وار مې امُید ونه شي

پېیوه موسکا خندا مې زړه خوشاله کړې
تېره شبېه نه وي بیا غمو منه شي
بېرته اُمید وار مې اُمید ونه شي

ټوله سونا راغله سودا یې به شم
ژوند مې په ژوندون کې ټول سوچ و شي
بېرته اُمید وار مې اُمید ونه شي

